پیاوړی لیکوال او شاعر ویکتور هوگو په ۱۸۰۲ م. کال د فرانسې په بیزانسون ښار کې زیږېدلی دی. پلار یې د پوځ لوړ پوړی دولتي چارواکی او جنرال و.

د هوگو کورنۍ د ده تر زېږېدلو څه موده وروسته د بیزان سون له ښار څخه د پاریس ښار ته ولېږدول شوه. هوگو د ځوانۍ پر مهال په شعر ویلو پیل وکړ. له ادبیاتو او مطبوعاتو سره د زیاتې مینې له کبله یې یوه مجله هم خپره کړه چې تر ۱۸۲۱ م. پورې یې خپرونو دوام وکړ.

د شعرونو لومړنۍ ټولگه یې تر خپرېدو وروسته د لوستونکو له ډېر تاوده هرکلي سره مخامخ شوه او ستره ادبي جایزه یې هم تر لاسه کړه. په ۱۸۴۳ م. کال د هوگو په ژوندکې هغه مهال بدلون رامنځته شو چې ځوانه لور یې مړه شوه. تر دې وروسته هوگو له ادبیاتو څخه سیاست ته مخه وکړه.

کله چې ناپلیون واکمن شو، ویکتور هوگو له هغه سره مخالفت پیل کړ. په پایله کې هغه اړ شو چې فرانسه پرېږدي. هغه لومړی بلژیک او بیا انگلستان ته لاړ.

ویکتور هوگو د انگلستان د جرسي په جزیره کې د استوگنې پر مهال د ((مجازات)) په نامه اثر ولیکه او په همدغه کال یې د خپلو شعرونو ټولگه د ((ننداره چیان)) تر سرلیک لاندې هم خپره کړه. نوموړی تر ۱۸۷۰ م. کال پورې هلته پاتې شو او خپل نور مشهور اثار د ((پېړیو حکایتونه)) او ((بینوایان)) یې ولیکل.

په ۱۸۷۰ م. کال هغه مهال چې په فرانسه کې جمهوري حکومت رامنځته شو، هوگو بیرته پاریس ته ستون شو. د فرانسې خلک تر ننه هغه ته د یو ستر ملي او ولسي لیکوال په سترگه گوري. مشهورو اثارو یې نوم د نړۍ د ادبیاتو په تاریخ کې د تل لپاره خوندي کړی دی. د هوگو اثار د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي.

ویکتور هوگو په ۱۸۸۵ م. کال د ۸۳ کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترگې پټې کړې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په هېوادکې د درې لسيزو جنگونو په بهيرکې د جگړې ښکيلو خواو و يا د خپل ځان د ساتنې او يا هم مقابل لوري ته د ځاني او مالي زيان رسونې په موخه له ماينونو څخه د يوې ډېرې اغيزناکې او کارې وسيلې په توگه کار اخيستی دی.

ماينونه په دوه ډوله دي:

د پرسونل ضد ماينونه او د وسايطو ضد ماينونه.

**د پرسونل ضد ماينونه**: هغه ځانگړي چاوديدونکي توکي دي چې له اوسپنې، پلاستيک او يا لرگي څخه په بېلا بېلو بڼو، لکه: د لوبو شيان، قلمونه، راډيو گانې اونورو جوړ دي اوپه منځ کې يې نا چاودي مواد شته چې هغه د بدن د غړي د فشار په وسيله چوي او مرگ ژوبله رامنځته کوي.



**د وسايطو ضد ماينونه**: دا ماينونه هم په بېلو بېلو بڼو جوړ دي چې د وسايطو، لکه موټرو، لاريو، ټانکونو او نورو د فشار په نتيجه کې چوي، د ځاني اومالي زيان رسولو سبب گرځي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

